## (B) برخه: په افغانستان کي د زراعتي ځمکو نوعي
## لومړی لوست: د یوه زراعتي واحد د تولید په توګه د یوې مزرعې درک کول او په هغې باندې پوهیدل

**د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه** زده کونکي به ددي لوست په پایله کي له لاندې موخو سره اشنا شي، د دې لوست تشریحات باید چي د لاندې موخو د منځته راتلو پایلي وګرځي:

1. د تولیدي واحداتو نوعي او اندازي بیان او تشریح کړئ.
2. د مزرعې منځنی اندازه تشریح او روښانه کړئ.

**وړاندیز وخت د لوست ورکولو لپاره:** ۲ساعته

**وړاندیز منابع :** لاندې منابع کیدلی شي چي ددي لوست په تدریس کولو کي ګټوری واقع شي:
د دې درسي پلان نه د استفادې په خاطر د پاورپواینټ ارایه کول هم ترتیب شوي دي. د لاندې ویب پاڼو

څخه هم په دي برخه کي استفاده او ګټه اخستل کیدلی شي.

Local Producers
Asad Sarwar Qureshi. Water Resources Management inAfghanistan: The Issues and Options. http://www.cawater-info.net/afghanistan/afg5_e.htm.
http://pdf.usaid.gov/pdf_docs/PNADH210.pdf
http://www.pecad.fas.usda.gov/highlights/2009/06/Afghanistan/

**دسامان الاتو،وسایلو او لازمو اسانتیاو لړلیک**

دلیکلوپه خاطر سپینه ورقه یا صفحه

دپاورپواینټ پروګرام په خاطر غټ ښودونکی (پراجکتور)

دپاورپواینټ (دکمپیوټرپروګرام) صفحي

روښانه سلایدونه یا صفحي

**اصطلاحات:**په دی درس کی لاندی اصطلاحات کارول کیږی (ذکر شوی اصطلاح ګانی دپاورپواینټ په دوهم ګڼه سلاید

یا صفحه کی وړاندی شوی دی)

- Commercial field تجارتي مزرعه
- Small field کوچنی یا وړه مزرعه

**په زړه پوری تګلاره :** له په زړه پوري تګلاري څخه ګټه پورته کړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست لپاره اماده کړل شي.ډیری ښوونکي د خپلو ځانګړو ټولګیو لپاره لازمي لاري چاري او شرایط ترتیب او برابروي. په دي ځآی کي یوه ممکنه تګلاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.
د زراعتي ځمکو په هکله بحث پیل کړئ. په کومې اندازې سره ځمکه شتون لري؟ د ځمکې څخه د استفادې په برخه کي کوم مشکلات یا ستونزي او کوم عمده مسایل شتون لري؟ د لوست د موخې په لور عبور وکړئ.(د ځمکې څخه د استفادې کولو د موضوع نور درسونه په تفصیل سره تر بحث لاندې ونیسئ)

### د محتویاتو لنډیز او د لوست ستراتیژي ګاني

**لومړۍ موخه یا هدف :** د تولید نوعي او اندازي بیان او تشریح کړئ.

**آټکل شوي یا وړاندیز شوی ستونزه:** د تولیداتو د واحدونو نوعي او اندازي کومي دي؟

**(د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)**

1. ځمکه د ډیرو زیاتو موخو او مقصدونو لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.

الف) شخصي ځمکه له هغې ځمکې څخه عبارت ده چي د هغې خاوند او مالک یو شخص یا کس او یا هم د خلکو یو ګروپ وي.

1 - 1000 $m^2$ شخصي ځمکي په یوه هکتار سره محاسبه او اندازه ګیري کیږي.

2 - څرنګه چي ځمکي زیاتي او سرشاره نه وي، نو په دي بنا باید چي په موثره توګه تر استفادې لاندې ونیول شي.

ب) دولتي ځمکه له هغې ځمکې څخه عبارت ده چي د هغې خاوند او مالک دولت یا حکومت وي.

1 - یو هکتار دولتي ځمکه په ۱۰۰ هکتاره باندې اندازه کیږي.

**(د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

ب ) د افغانستان د زرع کیدلو ټوله ځمکه تقریباً اته میلیونه هکتاره او یا هم د افغانستان د ټولې ځمکې ۱۲ فیصده زراعتي ځمکه تشکیلوي.

1 - د ۳،۹ میلیونه هکتاره د افغانستان د ځمکې له جملې څخه چي په واقعي ډول سره کښت او کرل کیږي، ځني له ځمکو څخه آبي او ځني له دوي څخه للمي تشکیلوي.

الف) د للمي ځمکو اندازه تقریباً ۱،۳ میلیونه هکتاره ده.

ب) او د اوبئزو ځمکو اندازه په افغانستان کي تقریباً ۲،٦ میلیونه هکتاره ده.

**(د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید)**

**د پاورپواینټ دا شمیره سلاید د افغانستان د غنمو د للمي ساحې ګراف د منطقې په سطحه ښایي یا په ګوته کوي.** د افغانستان شمالي ولایتونه د غنمو او جوارو ښه او په زړه پورې ظرفیت او وړتیا لري. چي د هغې علت په عمده ډول سره زیاتي محلي یا ځآیي نوعي او د اقلیمي متنوع والی دی.

**(د پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**

**1** – د افغانستان په اکثره ساحه کي، ددي هیواد خلکو د وچکالی د اوږدي مودي تجربي سرته رسولي دي. ددي کال د اورښت اندازه په منځ د ۱۰۰ او ۳۰۰ ملي مترو کي وه، د ۲۰۰۳ کال څخه په استثنایي توګه چي د اورښت اندازه یي له ۳۰۰ ملي مترو څخه پورته تللی وه.

2 – د کافي او مناسبو اوبو شتوالی د انسانانو ، حیواناتو د مصارفو لپاره او همدارنګه د غلو دانو او نباتاتو لپاره یوه ستونزه ده چي په مکرر ډول سره د ټولو کورنیو لپاره برابری کړل شي.

ب) ټولي هغه ساحې چي په افغانستان کي د څړځای یا څرولو لپاره شتون لري په اندازه د ٥٤،٧ میلیونه هکتارو سره ده.

د دي موخې د تشریح او روښانه کولو لپاره له **TM: 1-1** او **TM: 1-2** درسي یا لوستي موادو څخه استفاده وکړئ. له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د تولیداتو د واحدونو په برخه کي کوم چي په ساحه کي پیدا کیږي، بحث وکړي. اطمنان حاصل کړئ چي بحث د نباتاتو د نوعو په برخه کي کوم چي په ساحه کي کښت کړل کیږي او هغه حیوانات چي په للمي شرایطو او اوبیزو

شرایطو کي پالل کیږي، جریان لري. دا بحث په ډیر عادي شکل سره د د لوست د راتلونکی موخې یا هدف لپاره د تیریدو دروازه خلاصوي.

**دوهمه موخه یا هدف :** د مزرعې منځنۍ اندازه تشریح او روښانه کړئ.
**آټکل شوی یا وړاندیز شوی ستونزه:** منځنۍ یا متوسطه مزرعه څه ده؟

**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)**

**1 -** ځني کښت ځایونه شاید چي واړه یا په تجارتي ډول سره ملاحظه کړل شي.

**الف) د وړې یا کوچنۍ مزرعې منځنۍ اندازه (*small field*)** له $1{,}000\ m^2$ تر $2{,}000\ m^2$ پوري وي.

1 - وړي مزرعي د باغچو او سبزیجاتو د کښت او کرنې لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.

2– د وړو یا کوچنیو مزرعو تولیدات په نورمال ډول سره په مارکیټ کي په محلي یا ځایي خلکو باندې پلورل کیږي.

**(د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)**

**الف) عمده مزرعي یا تجارتي مزرعي (*Commercial fields*)** له هغو مزرعو څخه عبارت دي چي نسبت وړو مزرعو ته لوي وي.

الف) تجارتي مزرعي یا عمده ځمکي د غله لرونکو نباتاتو، روغني یا غوړینو نباتاتو، باغونو او سبزیجاتو په برخه کي تر استفادې لاندې نیول کیږي. غله لرونکي نباتات عبارت دي له غنم، وریجي، جوار، او نورو څخه.
ب ) غوړین نباتات شامل دي پر ارزن، شړشم او خردل باندې.
ج) هغه میوي چي په دي ځمکو کي کښت او کرل کیږي عبارت دي له بادامو، غوزانو، مڼي، انګورو، شفتالو، آلوبالو او انارو څخه.
د) هغه سبزیجات چي په دي نوعه ځمکو کي کښت او کرل کیږي عبارت دي له پیاز، کچالو، رومیان، کرم، خربوزه، هندوانړه او ګلپي څخه.

**(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاید)**
**1 –** د عمده مزارعو تولیدات یا تجارتي مزارعو تولیدات په نورمال ډول سره د منطقې په مارکیټونو کي او یا هم ولایتونو یا نورو هیوادونو ته صادریږي.
2 - کروندګر کولی شي چي له دي لاري څخه نقدي پیسي په لاس راوړي او یا دا چي دا تولیدات تبادله کړي.

د دې موخې یا هدف د زیاتي تشریح او روښانه کولو لپاره له **TM: 1-3** درسي موادو څخه استفاده وکړئ. له یوه محلي یا ځایي تولید کونکی څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي ټولګی ته راشي او په دې برخه کي کافي معلومات د زده کونکو لپاره وړاندې کړي. د پاورپواینټ له ۱۰ او ۱۱ شمیري سلایدونو څخه د مختلفو عملي کړنو لپاره د ځمکې د استفادې په برخه کي استفاده وکړئ.

**تکرار ۱ لنډیز:** د زده کونکو د زده کړو موخو څخه د لوست د لنډیز په توګه استفاده وکړئ. له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د هري موخې یا هدف پوري تړلي محتویات تشریح او روښانه کړئ. د زده کونکو ځوابونه کولی شي دا تشخیص کړي چي کومه موخه یا هدف بیا کتنې یا تدریس ته د بیا ځل لپاره

په مختلفي  طريقي سره اړتيا لري. هغه سوالونه چي د پاورپواينټ په ۱۲ شميري سلايد کي دي هم کيدلی شي چي په دي برخه کي تر استفادي لاندې ونيول شي.

**تطبيق:** د دې لپاره چي زده کونکي په عملي توګه کښت او کرنه او له مزرعې څخه د استفادې کولو نوعه مشاهده کړي، نو زده کونکي شخصي يا دولتي مزرعو ته يوسئ. او د لوست له موادو يا محتوياتو څخه په مزرعه کي عملاً يادونه وکړئ ترڅو چي زده کونکي هغه په ښه ډول سره درک کړي. له دي څخه وروسته له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي خپل مشاهدات يا کتني تشريح او روښانه کړئ.

**ارزيابی:** ارزيابی  بايد د زده کونکو د لاسته راوړنو په اساس سره د لوست د موخو په برخه کي متمرکزه وي. په دي برخه کي کيدلی شي چي مختلفو تخنيکونو څخه استفاده سرته ورسيري، بيلګئيز امتحان له دي سند سره يوځآی ارايه کيري.

**نمونه ئي امتحان ته ځوابونه**
**لومړی برخه:مطابقت يا اړيکه ورکول**

1. C
2. B
3. D
4. A

**خالي يا تش ځآيونه په مناسبو کلمو يا کلمې سره ډک کړئ**

1. Efficiently په موثره توګه
2. Market مارکيټ يا بازار
3. Exported صادر شوی
4. Cash, exchange products پيسي، د توليداتو بدلول

**لنډ ځواب**

**عمده مزرعي يا تجارتي مزرعي** (*Commercial fields*) له هغو مزرعو څخه عبارت دي چي نسبت ورو مزرعو ته لوي وي.

الف) تجارتي مزرعي يا عمده ځمکي د غله لرونکو نباتاتو، روغني يا غوړينو نباتاتو، باغونو او سبزيجاتو په برخه کي تر استفادې لاندې نيول کيري. غله لرونکي نباتات عبارت دي له غنم، وريجي، جوار، او نورو څخه.
ب )  غوړين نباتات شامل دي پر ارزن، شړشم او خردل باندې.
ج) هغه ميوي چي په دي ځمکو کي کښت او کرل کيږي عبارت دي له بادامو، غوزانو، منې، انګورو، شفتالو، آلوبالو او انارو څخه.
د) هغه سبزيجات چي په دي نوعه ځمکو کي کي کښت او کرل کيري عبارت دي له پياز، کچالو، روميان، کرم، خربوزه، هندوانه او ګلپي څخه.

**نمونه یی امتحان**

**نوم** ____________________

---

امتحان(ازموینه)

---

**(B) برخه: د افغانستان زراعتي ځمکو نوعي**

**لومړۍ برخه:مطابقت یا اړیکه ورکول**

رهنمایی(لارښوونه): اصطلاح د درست ځواب سره سمه ارایه کړئ. د اصطلاح توری د هغې له درست تعریف سره سم نوشته کړئ

a. Commercial field تجارتي یا عمده مزرعه c. Private land شخصي ځمکه
b. Governmental land دولتي ځمکه d. Small field وړه یا کوچنۍ مزرعه

________ 1 له هغې ځمکې څخه عبارت ده چي د هغې مالک یا خاوند یو شخص یا د خلکو یو ګروپ وي.

________2 له هغې ځمکې څخه عبارت ده چي د هغې خاوند یا مالک دولت یا حکومت وي.

________3 له هغې مزرعې نه عبارت دی چي د هغې اندازه له $1,000\ m^2$ نه تر $2,000\ m^2$ پوري وي.

________4 له هغې مزرعې نه عبارت دی چي نسبت وړې مزرعې ته لویه وي.

**خالي یا تش ځآیونه په مناسبو کلمو یا کلمې سره ډک کړئ(لاندې جملي بشپړي کړئ)**

1. څرنګه چي سرشاري ځمکي زیاتي نه وي، نو په دي بینا له ځمکو څخه باید په ____________ ډول سره استفاده صورت ونیسي.
2. د وړو یا کوچنیو مزرعو تولیدات په نورمال ډول سره په ______________ په محلي یا ځایي خلکو باندې پلورل کیږي.
3. د عمده یا تجارتي مزرعو تولیدات په نورمال ډول سره د ________________________ په مارکیټونو او یا ولایتونو او یا هم نورو هیوادونو ته صادریږي.
4. کروندګر کولی شي چي له دې طریقي څخه ______________ عاید په لاس راوړي او یا دا چي ______________ تبادله کړي.

**لنډ ځواب: لاندې سوالونو ته ځوابونه وړاندې او برابر کړئ.**

**1 –** د ینځه تولیداتو نومونه لست یا نوملړ کړئ چي په عمده یا تجارتي مزرعو کي کښت او کرل شوي وي.

## د توليداتو د واحداتو اندازي او نوعي

شخصي ځمکه له هغې ځمکې څخه عبارت ده چې د هغې خاوند يا مالک يو شخص يا د خلکو يو ګروپ وي.

- ❖ - $1000\ m^2$شخصي ځمکي په يو هکتار سره محاسبه او اندازه ګيري کيدلی شي.
- ❖ - څرنګه چې سرشاري ځمکې زياتي شتون نه لري، نو په دي بنا سره بايد چې په موثره توګه تر استفادې لاندې ونيول شي.

ب) دولتي ځمکه له هغې ځمکې څخه عبارت ده چې د هغې خاوند يا ماکل دولت يا حکومت وي.

- ❖ دولتي يو هکتار ځمکه په ۱۰۰ هکتاره سره اندازه ګيري کيږي.

# د افغانستان د للمي غنمو د ساحې نقشه



## متوسطه يا منځنی مزرعه کومه مزرعه ده؟

**الف) د وړي يا کوچنی مزرعې (*small field*)** منځنی اندازه له $1{,}000\ m^2$ څخه تر $2{,}000\ m^2$ پوري وي.

- ❖ وړي مزرعي د باغچو او سبزيجاتو لپاره تر استفادې لاندې نيول کيږي.
- ❖ د وړو يا کوچنيو مزرعو توليدات په نورمال ډول سره په مارکيټ کي په محلي يا ځآيي خلکو باندې پلورل کيږي.

**الف) عمده مزرعي يا تجارتي مزرعي (*Commercial fields*)** له هغو مزرعو څخه عبارت دي چي نسبت وړو مزرعو ته لوي وي.

الف) تجارتي مزرعي يا عمده ځمکي د غله لرونکو نباتاتو، روغني يا غوړينو نباتاتو، باغونو او سبزيجاتو په برخه کي تر استفادې لاندې نيول کيږي. غله لرونکي نباتات عبارت دي له غنم، وريجي، جوار، او نورو څخه.

ب ) غوړين نباتات شامل دي پر ارزن، شړشم او خردل باندې.

ج) هغه ميوي چي په دي ځمکو کي کښت او کرل کيږي عبارت دي له بادامو، غوزانو، منې، انګورو، شفتالو، آلوبالو او انارو څخه.

د) هغه سبزيجات چي په دي نوعه ځمکو کي کي کښت او کرل کيږي عبارت دي له پياز، کچالو، روميان، کرم، خربوزه، هندوانه او ګلپي څخه.کروندګر کولی شي چي له دي لاري څخه نقدي پيسي په لاس راوړي او يا دا چي توليدات تبادله کړي.